# ړڼې اوښکې

Ketabton.com

ويناوال
اجمل اټك (يوسفزى)

كال 1379، تله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب ځانګړنې:

||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم: رڼې اوښکې

ويناوال: اجمل اټك "يوسفزى"

کمپوز او ډيزاين: ذبيح الله "وردگ"

د کمپوز ځاى: ميرزا خان کمپوزنگ سنټر گل حاجي پلازه، دويم منزل، 208 نمبر دفتر

د چاپ شمېر: (500) ټوکه

نېټه: 1379 لړم

خپرندوى: د خښبې کلتوري ټولنه

د بيا خپريدا واك يې له نوموړې ټولنې سره خوندي دى.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ترون

خپلې قدرمنې، درنې او پښتنې مور ته!

چې د سر وېښته يې د سره اوښتون څپېړو او نادودو، زما د روزنې او سوکالۍ په هيله له وخته مخکې سپين کړه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اجمل د هينداري انځورونه

د ځو شپبو لپاره د فکر و خيال خلوتکدې له لاړ شئ، هلته مراقبه او له ذهني تزکېې وروسته د هيلو او عواطفو په سترګو د شاعرۍ نړۍ ته ورننوځئ، نفساني رجحانات د غيور فقر په زنځيرونو وتړئ، د زړه هينداره په هغو اوښکو ومينځئ چې لا راڅڅېدلې نه وي؛ نو هله به درڅرګنده شي، چې د ختيځ نوميالی فيلسوف علامه اقبال رښتيا ويلي:

شعر را مقصود اگرادم گر ست

شاعری هم ورث پيغمبرست

شاعر د پيغمبرانو عليهم الصواه و السلام په ميراث کښېنول دومره وړه خبره نده، شپې رڼول، له ستورو سره راز و نياز، نړۍ ته بل ډول کتل او له فن نه د سپېڅلي انساني هدف داسې هينداره جوړول چې راتلونکي نسلونه پکې خپل مخ وګوري د شاعر او فنکار نصب العين دی خو اوس زما تر مخ د ځلمي فنکار اجمل يوسفزي د زړه ټوټې پر تې دي، او دا مې پر ځان باور دی، چې انصاف به ورسره ونکړای شم، ځکه زه متاسفانه د صاحب طرز اديب او ليکوال استاذ صميم غوندې د کامې هم نه يم، چې په \"کامواله تعلی\" ځان وژغورم خو توکل پر خدای(ج).

کله کله څه چې ډېر وخت لوستونکي د يوه شعر په باب داسې فکر کوي، چې شاعر زما د زړه خبره کړې، حال دا چې شاعر خپل چاپېريال او مافی الضمير په ټکيو انځور وي، د دردونو، محيطي پېښو او نهيليو هماهنګي يو داسې شکل خپل کړی، چې:

بېلتانه په غم شريك کړم د غمجنو

د هر چا په غاړه ژاړم لکه نی

شاعر خپله مستي يا نيستي، شور ولولې او د احساساتو غورځنګ د استغراق پر پولو ورواړوي، او داسې انځورګر او عکاس ترې جوړی شي چې د حمزه بابا په وينا:

اوس چې هره بې لوڅه وايمه پند شي

که نه! شاعر غريب د ځان له غمه مړ دی، نه د جهان خو چې ځان ترې اجتماعي او ټولنيز شوی؛ نو له خوښۍ نا خوښۍ پرته د هر چا د زړه خبرې کوي، او دا ځکه خوله فنپارو د شاعر شخصيت ډېر په زړه پورې ښکاري، په حاضر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې غایب له خپلو نه پردي او په پردو کې خپل، او همدغه یقین مې په اجمل یوسفزي هم راځي، ځکه په دومره کم عمرۍ کې له طالبانو سره تر شیبر اوښتل، د مرګ له کومې نه تر حبس او بیا په حیرانوونکی ډول له دېر ربړنه وروسته آزادېدل هغه ځانګړنې دي، چې د ده د لېونۍ پوهې (شاعرۍ) مست غورځنګونه یې ګڼلی شو.

یك تنها به په خونخوارو لا رو تلل څوك

د اجمل یوسفزي د شاعرۍ په باب څېړنه او نقد به ځکه بې وخت وي چې شعر د مېوې غوندې د شاعر د ونې له رسېدو سره جوخت ګامونه اخلي، او پخیږي، او که له چا سره شك وي؛ نو په حمزه بابا به یې سپینه کړو، چې:

پخې بیاتې به د وختونو په تنقید شي زما

چې لاله کیفه ځینې کم ته راوتلی نه یم.

تخیل، رنګیني، پېغام، ښکلا او هنري ادا که د شعر لوازامات وي، نو ښاغلی اجمل پدې تول پوره خیږي، که څه هم زمونږ د زخمي هېواد لپاره خو یوازې د سولې او امن پیغام باید هدف وي، او که مې نه ګرموئ، نو باید دا هر څه د اسلام د مقدس دین تر بنسټونو لاندې وي، ځکه افغانانو د ترقي پسندۍ د افکارو مزه وڅکله، چې تر اوسه مې لانشه ماته نده، نو ځکه دې زمونږ د هېواد فنکار او شاعر پخپلو زمزمو کې خپل مقدسات نه هیروي، حرکات، تلمیح او د ادبي فنونو نور اصناف د شاعرۍ د تداوم او رنګینۍ اساسات دي، اجمل یوسفزی هم دغه ارزښتونه نه هېر وي، او د ادب د نورو زرګونو عقیدتمندانو غوندې یې په درنیښت یادوي:

یو غزلبوله زمزمه د مینې

د خړ خېبر په سردرو تېره شوه

د اجمل پدې ټولګه کې ما ته څه نا څه نظمونه د لېوني فلسفي مرحوم غني خان په تاثر ښکاره شول، او هغه قادر الکلامه شاعر چې څه ډول الفاظ د خپل فکر غلامان کړي وو، اجمل ورسره هم له همدغسې بې پروایي نه کاراخیستی، خو د پښتنو پلار خوشال بابا هم پر شعر همدغسې ګوزار کړی، او پخپله رندانه ژبه وایي:

رنګ زما د شعر هېڅ سره سم ندی

لکه سپي را پسې ګرځي په دنبال

اجمل یوسفزی چې د ژوند د کوم د ورشېبې اړوي، هغه د احساساتو د توپاني کېدلو او د دغې نفسیاتي څپې له اوښتلو وروسته د یو ډول انفعال او ندامت امتزاج را منځته کوي، او پدې باب ما ته د خپل عالم او فاضل استاذ علامه رشاد یوه خبره را په زړه شوه، هغه درانه یو ځل په ټولګي کې راته وویل، چې د لیسو لسم ټولګي د پښتو درسي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب چې مې تصنیفاوْ؛ نو ما ترې ټول عشقي اشعار په قصدي ډول ویستلي وو،او هغه د دې لپاره چې د شاګردانو د اوخت د احساساتو او غریایزو د تشدید وي، نو په متبادل ډول مې ورته دیني، تاریخي او اجتماعي مسایل په مضمون کې ځای پر ځای کړي وو، او تر څو چې په تدریسي بنسټونو کې انحراف نه وي، د شخصیت د تکامل او پشپړتیا مسوْولیت په ښه ډول سر ته رسي.

اجمل یوسفزي چې ژوند ته سترګې پرانیستې، پخپل کور کې یې د پلار شهادت، هجرت او په زرګونو داسې فجایع لیدلي، چې روسانو او د هغوی ګډاګیانو رامنځته کړي؛ نو ځکه یې شخصیت د هېواد د مستقبل لپاره په زړه پورې فرهنګي نوښتونه رامنځته کولی شي، او پدې کچه ځوانی هم حق لري، چې ووایي:

عشقه سلامونه چې سلطان دې کړم

لمر دې کړم شمله دې کړم اسمان دې کړم

ډېرې ککرۍ مرګ خاورې کړېدي

تازه کړم مجنون ژوندی د استان دې کړم

نو مبارك موشه، دا اجمل یوسفزی او دا یې د زړه ټوټې او د زړه ښیښې، زما هیله دا ده، چې که مې یې کماحقه درناوی نه وي کړی، نو رانه دې خیرنې شوې او ماتې شوې هم نه وي.

ناګار

شوال المکرام /1420/23

ننګرهار پوهنتون استوګنځی

درونټه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګران اجمل جان يوسفزي ته

د ېوې لنډې سريزې په ځای، دا لاندې غزل ډالۍ ده.

عبدالوکيل اټك

زما د پلار د ځالې بازه

زما محمود زما ایازه

يې تسل مې د تيپي زړګي

زما دوست زما همرازه

تا د (ليونی) له جامه څکلي

رنديې مست يې بې نيازه

لکه بحر د روند، کرارېې

ستاسينه ډکه له رازه

ته چې راغلې د ليلې له غيږې

غاړه کړه ورمه له نازه

9/ 18 / 2000

پېښور تاکال دوشنبه

د ليلې دښتې په ګمنامو سپاهيانو کې شمېرل شوی اجمل جان درې مياشتې وروسته ژوندی راستون شو-اټك

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پیلیزې پرځای

له سلامو او نمانځنو وروسته.

د چا خبره په ژوندونې مې محشر ولید، که څه هم د کربلا له مېدانه مې سر روغ راوویست خو یوه لومړنۍ شعري ناچاپه ټولګه مې د زرګونو شازلمیانو په وینو لړلې په لېلې کې پرېښوده.

که له یوې خوا مې د شازلمیانو شهادت ژړوي له بلې خوا مې ټولګه هم ارام نه پرېږدي.

دغه ماتې ګوډې کرښې چې تاسې یې په \"رنې اوښکې\" کې لولئ دغه زما د ژوند د راز او نیاز کرښې وبولئ او دا حق هم چا ته نه ورکوم چې هغه دغه په کې وکړي د فن له مخې ښایي کره کتونکي په خپلو برېتو لاس وهي او ووایي چې نیوکې او ستاینې زمونږ حق دی چې پرې یې وکړو. زه دا وایم چې که خوندوروي او یا بې خونده خو زما د زړه کرښې دي او ماته خوند راکوي، او په همدې کې مې د ژوند، مینې او عشق هغه بې بري راز هم پروت دی چې پرته زما د زړه او څښتن تعالی له ذاته آن خپله معشوقه مې هم پر ما پوه نه شوه چې زما ورسره مینه وه!؟

نور تاسې درانه

او خپله خوښه مو

ستاسو اجمل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بختور

سترگو سترگو ته تصویر ناتمام راغی

چا وې یار دی ژرمې خولې ته سلام راغی

د توحید توري مې وویل مسلمان شوم

ستا د عشق د برکته الهام راغی

بت شکن شوم د کعبې بدرنګان وژنم

چې سینې ته مې د ښکلیو امام راغی

ستا پر مخ د تور زلفو وریځې بار شوې

نا ببره سره غرمه کې ماښام راغی

بیا د سترګو د خمانو پیالې اړوم

لوند ګریوان مې په نظر کې ډک جام راغی

ما ویل اوس به مې تړي شکر دی خدایه!

د خورو زلفو کړۍ کړۍ لام راغی

نن به زنه را تړي مرګ مې علاج دی

بختور یم په آسمان آرام راغی

زمری 5

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آسمانونه

هر څه نه چې ګلونه جوړوم

ليونی يم زنځېرونه جوړوم

ما مه ولئ په کاڼو ايينه مخو

انځور ګريم تصويرونه جوړوم

د مينې بدخشان مې چالوټلی

چې له اوښکو سره لالونه جوړوم

د يار د ښکلا لمر نيسم ملګرو

چې په شونډو آسمانو نه جوړوم

/ 1377زمری / 5

## ولور

سرِ سپين غر ماکسي کميس نه لري

واورې ونه ورېدې

مست، مست سيندونه چپ دي

د اتڼو په څېر سرِ نه غړمبيږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ګونګې، ګونګې شول

لکه د پېغلې چې رانجه تېر شوي

دا کال بې شانه وچکالي راغلې

کوکنارو ګل ونه که، جل ووهل

او په کامه کې هم د ګوړو، ګنو خونده نشته

خېر

زلمي ټول، پنجاب ته تللي

او

هلته به خښتې اچئ

چې ستا ولور پوره کړي.

د ګران هېواد د سختې وچکالۍ کال 1379

## ټليفون؟!

ستا د سترګو د رمزو خبرې خوند راکوي

والله د دې نه هم ډېر

ستا د لاسو اشارتو خبرې خوند راکوي

لنډه په دا چې؛

دومره کېفونه ماته کله بخښي

چې دې ونه وېنم

او

په تليفون باندې له ماسره خبرې کوئ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غـلا

نن اعتبار ستا په سبا نه کوم

کافرې بس د سود سودا نه کوم

سترګې ترم چې ښکلي ونه وینم

نور په هغه او دا ژړانه کوم

درواغ دې منمه بادوه يې اّشنا

باور دې هېڅ نور په رښتيا نه کوم

باده د يار د پلونو خاورې راوړه

د رندو سرګو مې دوانه کوم

## د اوښکو جرګې

راځئ د خپل تقدير تېر ونيسو

هلئ د ژمي مازيګر ونيسو

سر به د اوښکو ګرېوانه کې تېتګ کړو

ګوندېکه خدای کول ګوهر ونيسو

د صبر ونې مو په زړه کرلي

په نن سبا کې به يې ثمر ونيسو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي آشنا، راځئ ای تللو اوښکو

د انتظار پر بڼو غر ونیسو

اوښکې جرګه، جرګه د یار پر غاړه

پر یو ځي ګوندې مرورونیسو

لکه هنداره کې تصویر ښکاره شي

بډې وهئ که نن سحر ونیسو

د کنړ سین سندریز شور وړی دی

ځو اباسین ته چې ګودر ونیسو

## جهانونه جوړم

شاعر یمه کاږه واږه فکرونه جوړم

څېره کښ یم طبیعت نه تصویرونه جوړوم

بې آبه مو کر کیله د زړه پر ځمکو کړې

فنکاریم د خپل انده سره ګلونه جوړوم

د ذهن ښامار وژنم اژدها را ایله ومه

په ماتوګوډو کرښو جهانونه جوړوم

بې شمیره ملکې مې د خیال تارونه اوبدي

د شعر پېغلې ته نوي لباسونه جوړوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه بادیم نه پیچومی، نه سین نه اباسین یم

یو غرېیم له هر څه نه غورځنگونه جوړوم

## ښکار

عشق د سر سوری راسره په هره لار روان دی

لکه میږی له ځانه غټ راسره بار روان دی

بېلتونه روح را نه جلا ځغلي تر شانه گوري

لکه سور هیبت وهلي روس کتار روان دی

په صراط پل باندې مې زړه پخپله خوښه بیایي

لا تر ویښته هم لېونی پر نری تار روان دی

شونډې لاسونه سترگې سرې دلته هر يو خوښوي

زمونږه کلي کې همدغه شانې ښکار روان دی

## غزل

د مطرب گوتې روسي بم رېبلي

چې رباب نشته زړونه غم رېبلي

دغه بې وخته خاورې شوي ځواني

دلته په ظلم يو صنم رېبلي

مړه مینه ښه ده نه د بل په برخه

چې ورته گورې دم په دم رېبلي

د اجمل زړه او فکر دواړه خدایږو

د چا خمارو په ستم رېبلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښه دی

سوی په اور باندې لړمون ښه دی

دلته له هر څه نه جنون ښه دی

ژاړه چې پوښې د یار په قدر

مینه کې تل آشنا بېلتون ښه دی

هره شېبه شېبه چې لارې څارې

په تمه تمه کې ژوندون ښه دی

چې نه ننګ او نه غېرت ولري

څوک وای همداسې هم پښتون ښه دی

تله-لومړی-1379

پیښور

## ګودر

د ګودر څنګ کې پرون

روسی لښکر تیر شوی

نوره به نه ځې هلته

دا نن خبره نه شوې؟!

هغه کوچۍ پېلغوټې

لار کې خړماېن

وهلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماین

د تورو غرو لمن کې

هاله کنډرو پورته

زړو قبرونو سره

ما د ښیښو ښکارته!

چل چلکي جوړول

خو

اوس روسي نامردو

زما ښکار له پاره هلته کې ماین ینبي دي

## حمزه بابا

د زړېه سر مې سره لمبه تېره شوه

سوړ او سیلي کې خاطره تېره شوه

د تخیل هېنداره پرې وتله

ترې د جانان ښکلې څېره تېره شو

منګلې مه ماته وه بخته زما

خیر دی که نن دې پېمانه تېره شوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه په پاڼو کې ساتمه آشنا

د مينې داغ که زما نه تېره شوه

د غزلبول خيبر په خړو درو

څه غم لړلې حادثه تېره شوه

1376سلواغه / 25/ خيبر

## سندرې

په اورنو کې سندرې، په ويرونو کې سندرې

آشنا په مونږ فرض کړي کړاونو کې سندرې

د تورو سکرو توري د غزلونو شينکي کاږي

د سور وطن پر څمکه تنورو کې سندرې

پخوا يوه ميوند، کې نن په هره دښته وايي

پېغلې غرونو کې سندرې په رغونو کې سندرې

په ژبو سره داغونه او پر شونډو پرهرونه

ځليږي آننگيو هم مخونو کې سندرې

ودونو کې مو نوى دود په ساندو ورگډ شوى

پښتنې ښځمنې وايي مرگونو کې سندرې

آهنگ شته لا هر څه کې، بس يو (يون) له خدايه غواړي

په کېڼکو کې سندرې په ځرمنو کې سندرې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څېو سيوري لاندې زلميان په ګډه وايي

په چك چكو كې سندرې، اتڼونو كې سندرې

## لېونی

يو زه يم لېونی بل مې جانان دی لېونی

په مينه محبت كې درست جهان دی لېونی

خاموشه سمندر دی په څپو څپو غورزي

سينو كې ولولې د عشق توپان دی لېونی

په ښار بيابان كلي كورو كې لېوني دي

په ستورو په سپوږمۍ ډك شين آسمان دی لېونی

د ګلو د بلبلو د ښكلو په ورمو كې

يوازې اجمل نه ټول ګلستان دی لېونی

/ 1376وری / 24 قندهار ښار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لمن

د مينې په رنځ پروت يم د حسن دوا غواړم

ياره يوه لپه خوږمن زړه ته دعا غواړم

ملنګ يم بېنوا د رګاګانو سترې کړې

ځولۍ غوړوم زه نن خپل آشنا نه سخا غواړم

نظر ته مې له وړانګو چې جانانه جوړه وله

د شنه آسمان لمن کې سپوږمۍ نه زه تا غواړم

اوښلن سمندر راغی د سترګو پر بڼو مې

د درست عمر ژړا باندې يوه خوله خندا غواړم

## څه قبلوي

نه مې وژني نه ژوندون قبلوي

ياره نه وصل نه بېلتون قبلوي

عشق بېله سودا بېله دنيا ده

نه ټنې او نه جنون قبلوي

نه خوښي راکوي نه ژړا تل

نه غمو نه نه سکون قبلوي

مينه څه ده لېونتوب، ليونتوب

نه يو فکر نه ترون قبلوي

/ 77زمرى / کامه ښخيو کلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رسوايي

نوره دې آّينه کې د جام پريوتو

شور شو ميخانه کې خيام پريوتو

شونډو نه دې جوړ مسکي گلونه شول

ياره په سجدو شو امام پريوتو

اوس لامستۍ واخستم بې خوده شوم

زړه کې مې د مينې الهام پريوتو

اوس به سر په دار شي اجمل وگورئ

راغله رسوايي شوه الزام پرېوته

## گيلې

راشه له سترگو مې تيارې لرې کړه

خورې د غم تورې پردې لرې کړه

تر څو به څپې مونږ سيلۍ د هجر

راځه راځه گلې پلمې لرې کړه

راشه يو دم مې د وصال لمبه کړه

بيا د وربله دې ايرې لرې کړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه پوښتني ته بندي دې يمه

د مين پښو نه زولنې لرې کړه

خير په خندا او په مسکا شه ورته

د خوار اجمل له زړه ګيلې لرې کړه

## پښتنې پروين ملال ته!

ګل شوم د اغزو لمن کې پریو تم

بخته! د لمبو لمن کې پریوتم

ډېر مې زړه په خيال تصور وخندل

ښه د کړاو لمن کې پریوتم

زغم د پښتنې حيا مجبور کړمه

نن د پښتنو لمن کې پریوتم

ټول عالم شو ګيردي او مونږ خواران

آه! د شوګيرو لمن کې پریوتم

اوښکې مې تسبح وي تر سهار، سهار

غمه! د سجدو لمن کې پریوتم

دومره خو لا سترى خياله نه يمه

نه چې د درخو لمن کې پریوتم

ياد د خوږي مينې را تر سترګو شي

خدايه د غمو لمن کې پریوتم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ما قتلوي

په سرو شونډو نن بيا ما قتلوي

سرې تورې دي ليلا ما قتلوي

بختور يم چې په خپل لاس سبا يار

په خوښي او په خندا ما قتلوي

ځل بل تورو سترګو کې چړې دي

قصاب نه دی آّشنا ما قتلوي

پر بڼو باندې مېلمه دی د يار ځور

په سلا او دلاسا ما قتلوي

/ 14وری / 1376 کويته سرانان

## ليلې ته!

قصاب لکه پسونه افغانان حلالول

شمال کې ظالمانو انسانان حلالول

نسيم خوشبويي راوړه شمال نه د سرو وينو

خزان چاړه په لاس تازه ګلان حلالول

د عشق لېوني تږي د خونخوارګو توکې ښکيل شول

د مينې په سزا يې پتنګان حلالول

اجمله غرو رغو کې زرکانو وژل

ټپس چې په دوکه باندې بازان حلالول

– 1377مزارشريف

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مينې زمزمه

د ژوند شپېه په ځغليدو تېره شوه
لکه سيلۍ د مخ په تلو تېره شوه

قاتلو سترګو ماشوم زړه کړشهيد
د بورې مينې په سلګو تيره شوه

يوه لمبه د سپينکي مخ مې پر زړه
لکه د لمر په پرېوتو تېره شوه

يو غزلبو له زمزمه د مينې
د خړ خيبر پر سردرو تېره شوه

دنيا د مينې په خوښۍ تېرېږي
په خوار اجمل په ژړېدو تېره شوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د هجر شپې

نه راځي نظر ته اشنا نه راځي

ځکه مې په خوله هم خندا نه راځي

تېر د دنيا عمر په ما خوار شولو

يو د مينې يار هم په خوا نه راځي

څه څه پر ما تېر شول څوك خبر نه شول

شمه يم په چغو ژړا نه راځي

پل به د آشنا په سترګو ښکل کړمه

داسې شپېې كله په ما نه راځي

عشق آباد نېسا هوتل

/ 25زمرى / 1378

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**